مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۱/۲۵

# ته

دا ته څوک يې؟

چې زما د تخييل کوڅو کې ګرځې

دا ته څوک يې چې پخپل سر ورته راغلې

او زما د ذهن خونه کې ديره شوې

دا ته ځوک يې چې مې سترګي روح ته وايې:

راشه راشه لږ مې سترګو کې دمه شه

دا ته څوک يې؟

دا ته څوک يې،

چې زما د شعور لاندې بن کې ګرځې

د ماضي له خاطرو مې کړې غلاګانې

دا ته څوک يې چې مې ځان پلو درکاږې

راته وايې چې وجود دې دی نيمګړی

راشه راشه چې نور نيم وجود دې زه يم

داچې ته يې، داته نه يې دا هم زه يم

زه دې روح يم، زه دې ژوند يم زه هرڅه يم
آی آی دا ته څوک يې؟

دا ته څوک يې چې د زړه کور کې ديره شوې

زما عقل دې په سترګو کې درواخيست


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

زما د ژبې زما د زړه اختیار دې واخیست

آی

دا ته ...دا...ته ... ته ته ته ...ت ت ت ت ت ....!!!؟

۲۰/ ۷/ ۱۳۹۲
کابل- کلوله پشته
علم گل سحر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ